ILSAA
IMMIGRATION LEGAL SERVICES
FOR AFGHAN ARRIVALS
خدمات حقوق مهاجرت برای افغان‌ها

https://ilsaa.acf.hhs.gov
ILSAAinfo@icf.com
833-286-0864

# هغه معلومات چې افغان ماشومان او د هغوی پالونکي باید پرې خبر شي

*ایا تاسو یو افغان ماشوم ته زده کړه یا روزنه ورکوئ، یا یې هم پېژنئ او یا یې پالنه کوئ؟ مهرباني وکړئ هغوی وهڅوئ چې خپل دکډوالۍ وضعیت اپډیټ (تازه) وساتي او که ضرورت وي خپله پته د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) سره تازه کړي.*

## د پرول وضعیت د وخت سره سم نوی (تازه) ساتل

که چیري تاسو د افغانستان یو تبعه یاست او عمر مو هغه وخت تر ۱۸ کلونو کم و کله چې متحده ایالاتو ته د پرول د وضعیت له لارې د OAR او یا هم PAR د دوخولي نوعیت پر بنسټ داخل شوی واست، نو په دې حالت کې باید تاسو خپل د پرول وضعیت د وخت سره سم نوی یعني اپډیټ و ساتئ. که اوس مهال ستاسو عمر د ۱۸ کلونو څخه ډیر وي خو متحده ایالاتو ته د پرول وضعیت له لارې د داخلیدو پر مهال مو عمر ۱۸ کاله یا د هغه څخه کم وو، په دې حالت کې تاسې عامه ګټو یا امتیازاتو ته تر هغه وخت پورې پر شرایطو برابر یاست تر څو چې مو د پرول وضعیت د اعتبار وړ وي.

## څنګه کولای شئ خپل د پرول وضعیت معلوم کړئ

**د متحده ایالاتو د ګمرکاتو او سرحدي خوندیتوب اداري ( Customs and Border Protection – CBP) د I-94 فورمې ویب پاڼې** ته په ورتګ سره خپل د **I-94** وګورئ، د ختمیدو نېټه یې معلومه کړئ او د دغه فورمې یوه کاپي در سره چاپ یعني پرنټ کړئ. دغه فورمې ته د لاس رسي لپاره باید تاسو خپل لومړی نوم، کورنی نوم (تخلص)، د زیږیدو نېټه، د سند شمېره یا د ای (A) نمبرپه شمول د «A» د توري، او خپل د تابعیت هیواد اړوند معلومات داخل کړئ. د متحده ایالاتو د ګمرکاتو او سرحدي خوندیتوب اداره (**CBP**) د دغه مرحلې د بشپړولو په اړه په **انګلیسي (PDF)**، **دري (PDF)**، او **پښتو (PDF)** ژبو لارښوني لري.

## د پرول وضعیت تمدیدول (نوی کول)

د پرول وضعیت ممکن په اوتومات ډول د هرې قضیې (کیس) مطابق تمدید شي. د بیلګې په توګه، د ۱۴ کلونو څخه د کم عمره ماشومانو قضیې ممکن په اتومات ډول تمدید شي. همدارنګه که تاسو د خپل لومړني پرول وضعیت د تر لاسه کولو وروسته د پناه غوښتنې (اسایلم) یا دایمي اقامې(ګرین کارټ) لپاره عریضه کړې وي، ستاسو د پرول د وضعیت موده به وغځول شي پدې شرط چې ستاسو غوښتنلیک د طی مراحل یعني پروسس په حال کې وي. که تاسو د خپل وضعیت په اړه نه پوهیږئ، د معلوملو تر ټولو غوره لار یې په آنلاین ډول د I-94 فورمې معلومول یعني چک کول دي.

## د پناه غوښتنې او ګرین کارټ غوښتنلیکونه

دافغانستان اتباع هغه چې عمرونه یې د ۱۴ څخه تر ۱۸ کلونو پورې دي او غواړي خپل د لومړني پرول وضعیت تمدید یا وغځوي، ممکن ځیني اختیارونه (اپشنونه) ولري. که پر شرایطو برابر و اوسئ، تاسو کولای شئ مخکې له دې چې ستاسو د لومړني پرول موده پای ته ورسیږي، **د پناه غوښتنې او د شړلو (ایستلو) د ځنډ غوښتنلیک یعني (I-589) فورمه**، او یا هم د **وضعیت د سمون یا د دایمي اقامې د ثبت غوښتنلیک یعني (I-485) فورمه** ثبت کړئ. ستاسو د پرول وضعیت به په داسې حال کې په اتومات توګه تمدید شي چې غوښتنلیک مو تر کار لاندې وي.

## د بیا پرول لپاره غوښتنه کول

هغه افغان ماشومانو چې د پناه غوښتنې(اسایلم) او یا دایمي استوګنې(ګرین کارټ) لپاره عریضه نه وي کړې، کولای شئ چې د سفر سند غوښتنلیک یعني Form I-131 ثبت کړي تر څو په دې توګه د پرول د وضعیت او یا هم بیا پرول لپاره د نوي مودې غوښتنه وکړي. د دغه کار لپاره د غوښتنلیک کوم فیس نشته. که څه هم فورمه کیدای شي چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) ته د پوسته خانې له لارې و سپارل شي، خو تاسو ته دا سپارښتنه کیږي چې د انټرنیټ یعني آنلاین حساب له لارې یې ثبت کړئ.

- تاسو باید د لومړني پرول د وخت د ختمیدو څخه مخکې او د ۲۰۲۴ کال د جولای د میاشتې د لومړۍ نېټې مخکې خپل دوسیه ثبت کړئ. که ستاسو د پرول د وضعیت موده تر وخت تیره شوې وي، د مهربانۍ له مخې د یو وکیل سره د مرستې په موخه اړیکه ونیسئ.
- هر شخص باید په انفرادي ډول د بیا پرول غوښتنه وکړي، نه دا چې د بل کس د غوښتنلیک د یوې برخې په توګه.

مخکې له دې چې په آنلاین ډول د بیا پرول لپاره غوښتنه وکړئ، مهرباني وکړئ لاندیني مرحلې بشپړې کړئ:

1. که تاسو تراوسه د بریښنالیک یا ایمیل ادرس نه لرئ، لومړی د بریښنالیک ادرس جوړ کړئ. هر څوک کولای شي د جي میل (gmail.com) یا بل وړیا د بریښنالیک د خدماتو په کارولو سره بریښنالیک (ایمیل ادرس) جوړ کړي.
2. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) په ویب پاڼه « **څنګه د (USCIS) حساب جوړ کړئ**» کې د لارښوونو په تعقیبولو سره د «myUSCIS» یو وړیا حساب جوړ کړئ. هر شخص باید خپل د یو ایس سی ای ایس حساب ولري، حتا ماشومان هم.
3. **د ځینوافغانانو لپاره د بیا پرول د پروسې اړوند موجوده آنلاین لارښوونې تعقیب کړئ | USCIS**

د دې سند محتویات او مطالب یوازې معلوماتي جنبه لری او کومه حقوقی موخه نلري. د کډوالو او مهاجرت د حقوقی مشورې لپاره د متحده ایالاتو کمېټې ( یو اس سی آر آی- USCRI ) دفتر خپل مالي تمویل د آزادي سیالۍ له لارې د امریکا متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت د ماشومانو او کورنیو اداړې څخه د 140D0423C0027 قرارداد په وسیله تر لاسه کړی دی. د نوي راغلو افغانانو لپاره د حقوقی خدماتو پروژه (آی ایل اس ای ای- ILSAA ) سل سلنه (۱۰۰٪) د امریکا متحده ایالاتو د فډرال حکومت لخوا تمویل کیږي.

USCRI

https://ilsaa.acf.hhs.gov
ILSAAinfo@icf.com
833-286-0864

## د افغان ماشومانو لپاره نور معلومات

**د آدرس بدلول:** کله چې تاسو د اوسیدو ځای بدل کړئ نو باید د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) ته د لسو ورځو په جریان کې د نوي ادرس معلومات ورکړئ. دا کار به ستاسو د کډوالۍ د قضیې په وړاندې د ستونزو په مخنیوي کې مرسته وکړي. دلته دا زده کړئ چې څه ډول د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) سره خپل ادرس نوی کړئ. دا معلومات د ایلسا (ILSAA) په **«بیرنی! د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) سره خپل آدرس تازه (نوی) کړئ»** معلوماتي پاڼه کې موندلای شئ.

**د کورنۍ بیا یوځای کیدنه:** افغان ماشومان ممکن د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت یا د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) له لارې د کورنۍ د بیا یوځای کیدو خدماتو لپاره پر شرایطو برابر وي. د نورو معلوماتو لپاره د بهرنیو چارو وزارت **د افغانانو لپاره د کورنۍ د بیا یوځای کیدو** ویب پاڼې او د افغانستان اتباعو لپاره **د** متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) **معلوماتو ویب پاڼې** ته لاړ شئ.

**اضافي امتیازات:** افغان ماشومان ممکن د خوړو کوپن (فوډ ستمپس)، انګلیسي ژبې زده کړې ، روغتیایي ملاتړ او ورته نورو مرستو لپاره پر شرایطو برابر وي. تاسو کولای شئ د کډوالو د بیا میشتیدنې دفتر (ORR) **ویب پاڼې** په لیدلو او د دوی **د معلوماتي پاڼې( Fact Sheet)** ته د لاسرسی له لارې نور معلومات ترلاسه کړئ. ځینې ایالتي حکومتونه هم مرستې وړاندې کوي؛ **د ORR د کلیدي ایالتو د اړیکو پاڼې** په لیدلو سره نور معلومات ترلاسه کړئ.

**سرپرستي/ساتنه:** که تاسو د یوه افغان ماشوم پالنه کوئ خو د هغوی مور او پلار یا قانوني سرپرست نه یاست، تاسو ممکن ځینې حقوقي ګامونه پورته کړئ تر څو وکولای شئ په امریکا کې د هغوی اړتیاوې ور پوره کړئ. د مثال په توګه، که چېرې دغه ماشوم ستاسې د مهاجرت په قضیه کې ستاسو د اولادونو په لیست کې شمېرل شوی وي نو دا به خورا مهمه وي چې حقوقي مرسته ترلاسه کړی او ترسره شوې غلطي اصلاح کړی ترڅو یاد ماشوم و کولای شي د مناسبو مرستو او ګټو لپاره پر شرایطو برابر شي. د ایلسا (ILSAA) سره اړیکه ونیسئ تر څو د ایلساسره په اړیکه کې شی او **«ایا تاسو د یو افغان ماشوم پالنه کوئ خو د هغوی قانوني مور او پلار نه یاست؟»** معلوماتي پاڼې ته لاس رسی و مومئ.

**پوښتنې؟**
که تاسو پوښتنې لرئ یا نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د نورو سرچینو لپاره د ایلسا (ILSAA) **ویب پاڼه** وګورئ. یا موږ سره په ILSAAinfo@icf.com اړیکه ونیسئ او زموږ د ټیم یو غړی به تاسو سره بیرته په اړیکه کې شي.

## د سرچینو (معلوماتو) لیست

د ماشومانو او کورنیو اداره (ACF)، د کډوالو د بیا میشتیدنې دفتر(ORR):

- د ماشومانو او کورنیو اداري (ACF) د کډوالو د بیا میشتیدنې دفتر (ORR) امتیازات د هغو افغان تنکي ځوانانو لپاره چې په متحده ایالاتو کې بې له مور او پلار نه د پالونکو سره ژوند کوي. https://www.acf.hhs.gov/sites/default/files/documents/orr/benefits-for-afghan-minors-fact-sheet.pdf.
- د ماشومانو او کورنیو اداره (ACF). https://www.acf.hhs.gov/orr

ایلسا — (ILSAA)

- ایا تاسو د یوه افغان ماشوم پالنه کوئ خو د هغوی قانوني مور او پلار نه یاست؟ https://ilsaa.acf.hhs.gov/wp-content/uploads/2023/04/Pashto_Guardianship_One_Pager_508.pdf
- بیرنی! خپل پته د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداره (USCIS) سره تازه (نوی) کړئ . https://ilsaa.acf.hhs.gov/wp-content/uploads/2023/05/Pashto_ChangeofAddress_508.pdf
- د نویو راغلو افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدمات (ایلسا — ILSAA) https://ilsaa.acf.hhs.gov/ps/%da%a9%d9%88%d8%b1-%d9%be%d8%a7%da%bc%d9%87
- د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) د افغانستان اتباعو لپاره معلومات uscis.gov/allieswelcome
- څنګه کولای شی چې د یو اس سی ای اس (USCIS) آنلاین حساب جوړ کړئ. **https://www.uscis.gov/file-online/how-to-create-a-uscis-online-account**
- د I-131 فورمه، د سفر سند لپاره غوښتنلیک https://www.uscis.gov/i-131
- د ځینو افغانانو لپاره د بیا پیرول پروسه. https://www.uscis.gov/humanitarian/information-for-afghan-nationals/re-parole-process-for-certain-afghans

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت (DOS)

- **د افغانانو لپاره د کورنۍ بیا یو ځای کیدنه.** state.gov/afghanistan-family-reunification/.

د دې سند محتویات او مطالب یوازې معلوماتي جنبه لری او کومه حقوقی موخه نلرې. د کډوالو او مهاجرت د حقوقی مشورې لپاره د متحده ایالاتو کمېټې ( یو اس سی آر آی- USCRI ) دفتر خپل مالي تمویل د آزادې سیالۍ له لارې د امریکا متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت د ماشومانو او کورنیو ادراې څخه د 140D0423C0027 قرارداد په وسیله تر لاسه کړی دی. د نوي راغلو افغانانو لپاره د حقوقی خدماتو پروژه (آی ایل اس ای ای- ILSAA ) سل سلنه (٪۱۰۰) د امریکا متحده ایالاتو د فدرال حکومت لخوا تمویل کیږي.

USCRI